**د پوهنې وزارت**

د تعليمي نصاب، د ښوونکو د

او د ساينس د مرکز معينيـ

د تعليمي نصاب د پراختيا او د

کتابونو د تاليف لوی رياسـ

# حسن خط

## شپږم ټولگی

Ketabton.com

**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# حسن خط

## شپږم ټولګی

**د چاپ کال ۱۳۹۰ هـ. ش.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمېټې

**ليکوالان:**

۱. محمد ظاهر طاهري د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف رياست د هنرونو د ديپارتمنت آمر.
۲. عبدالجليل آخندزاده د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف رياست د هنرونو د ديپارتمنت علمي غړی.

**تاييد او مطالعه:**

**ملي شورا:**

– د ولسي او مشرانو جرګو د ديني چارو، پوهنې او لوړو زده کړو د کميسيونونو غړي.

**د څېړنې او تدقيق کمېټې:**

**د علومو اکاډمي:**

– سرڅېړونکی عبدلواجد واجد د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو د مرکز رئيس.
– ذکريا ملاتړ د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو د مرکز علمي غړی.

**د کابل پوهنتون:**

– پوهندوی محمد رفيق رفيق د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو د پښتو څانګې استاد.

**پوهنې وزارت:**

۱. سعدالدين شپون د پوهنې وزارت سلاکار.
۲. ژباړونکی: سيد انور ميچنخيل د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف رياست د هنرونو د ديپارتمنت علمي غړی.
۳. نفيسه پوپلزی د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف رياست د هنرونو د ديپارتمنت علمي غړې.
۴. محمد غالب الله يار د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف رياست د هنرونو د ديپارتمنت علمي غړی.
۵. احمد شفيق برنايار د هنرونو د مسلکي ليسې ښوونکی.
۶. بلقيس احمدي د هنرونو د مسلکي ليسې ښوونکې.
۷. فرحتيار د هنرونو د مسلکي ليسې ښوونکی.

**د محتوياتو، سياسي، فرهنګي او ديني برخو د څېړنې او کره کتنې کميټې:**

ډاکټر عطاء الله واحديار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئيس.
دوکتور محمد يوسف نيازی د پوهنې وزارت سلا کار.
د مؤلف مرستيال محمد سهراب ديدار.

**د څېړنې او تدقيق د څارنې کميټه:**

– دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د روزنې او د ساينس مرکز معين
– دکتور شېر علي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول
– د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر ګلستاني د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رئيس



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم



# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر



(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## د پوهنې د وزير پيغام

**ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده‌کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او درونه مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير



(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| شمېر | مخ |
|---|---|
| لومړی لوست: | ۱ |
| دوهم لوست: | ۲ |
| دریم لوست: | ۳ |
| څلورم لوست: | ۴ |
| پنځم لوست: | ۵ |
| شپږم لوست: | ٦ |
| اووم لوست: | ۷ |
| اتم لوست: | ۸ |
| نهم لوست: | ۹ |
| لسم لوست: | ۱۰ |
| یوو لسم لوست: | ۱۱ |
| دوولسم لوست: | ۱۲ |
| دیارلسم لوست: | ۱۳ |
| څوارلسم لوست: | ۱۴ |
| پنځلسم لوست: | ۱۵ |
| شپاړسم لوست: | ۱٦ |
| اوو لسم لوست: | ۱۷ |
| اتلسم لوست: | ۱۸ |




(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم لوست: ١٩
شلم لوست: ٢٠
یو ویشتم لوست: ٢١
دوه ویشتم لوست: ٢٢
درویشتم لوست: ٢٣
څلورویشتم لوست: ٢۴
پنځه ویشتم لوست: ٢۵



(c) ketabton.com: The Digital Library


# لومړی لوست

## نستعلیق

**موخه**: د ( م ) توري د حرکتونو سره اشنا کېدل.


**پوښتنې**:

- ❖ د ( م ) د توري حرکتونه مو په یاد دي؟
- ❖ د ( م ) توري حرکتونه مشق کولی شئ؟




**فعالیت**:

په لاندیني سر مشق کې د نورو تورو سره د ( م ) توري دوه ډوله یوځای کیدنه یا ( اتصال ) لیدل کیږي. لومړی په ډیر غور ورته وګورئ او بیایې په نی قلم ولیکئ.




**ګران ښوونکی دې**:

د ( مـی ) د دتـورو هنـري طریقـه د ټولګي پـه تـوره تختـه ولیکـي او د حرکتونـو پـه اړه یـې څرګندونې وکړئ. د ( م ) د تـوری یوځـای کیـدل ( اتـصال ) د ( میونـد ) پـه کلمـه کې د نی قلم ثوکه د کاغذ پرمخ مایله کښیږدئ او بیا د پورتني مشق پـه شـان قلم پـه نیمـه ثوکـه نیمـه دایره انځور کړئ. او دریم حرکت ته د قلم په ثوکه ښی خواتـه دوام ورکړئ او بیـا د (و) تـوری ورسره ونښلوئ.

**کورنی دنده**: لاندینی جمله ثوواره مشق او تمرین کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دوهم لوست

## د لیک ښکلا

**موخه**: په خود کار قلم د نستعلیق خط زده کړه.

پوښتنه:

❖ د خط د ښکلا سره مینه لرئ؟



**فعالیت**:

پورتنۍ لیکنه د کرسي په خط ښکلې ولیکئ.

### ښاغلی ښوونکی دې:

د تورو د ښلولو په هکله زده کوونکو ته څرګند ونې وکړي او پورتنۍ لیکنه د ټولګي په توره تخته ولیکي ترڅو دوی د قلم په حرکتونو په سمه توګه وپوهیږي.

**کورنۍ دنده** : د بیکارۍ په وختونو کې همیشه مشقونه ولیکئ!

# دریم لوست

## نسخ

**موخه:** په نی قلم د نسخ خط د لیکلو سره اشنا کیدل.

**پوښتنې:**

- د نی قلم څنګه پیژنئ؟
- تاسې کله سیاهي جوړه کړې ده؟

چې ګټل خوړل، بخښل کا ځوان هغه

**فعالیت:**

د پورتنۍ لیکنې په وخت کې د کرسي په خط باندې سمه لیکنه ، فاصلې او د قلم حرکتونه په پام کې ونیسئ.

**ګران ښوونکی دې:**

زده کوونکي د نسخ دخط د قانونمندۍ سره اشنا کړي او دقلم حرکتونه ور باندې زده کړئ.

**کورنۍ دنده:** په کور کې د شپې له پلوه څوواره لاندینۍ لیکنه مشق کړئ.

چې توره لري د تورې خان هغه



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


# څلورم لوست

## د لیک ښکلا

موخه: د نسخ په خط کې د کرسي په خط په خودکار قلم د تورو د ځای په ځای کیدو ترتیب سره اشنا کېدل.

**پوښتنه:**

❖ که د لیک ښکلا په فني توګه زده کړئ څه احساس به وکړئ؟




**فعالیت:**

زده کوونکي دې پورتنۍ لیکنه تمرین کړي او هم کولای شي چې د بیکارۍ په وخت کې یې ځوواره په خود کار قلم تمرین کړي.

## ښاغلی ښوونکی دې:

پورتنۍ لیکنه د ټولګي په توره تخته ولیکي او زده کوونکو ته دې د قلم حرکتونه او د تورو یو ځای کیدنه ور وښيي او د هغوی لیکونه دې اصلاح کړي!

**کورنۍ دنده:** پورتني لیکنه ځوواره تمرین کړئ!


# پنځم لوست

## نستعلیق

موخه: د نی په قلم په نستعلیق خط کې د کلمو د ځای په ځای کولو سم درک کول.

**پوښتنې:**

- که د خطاطۍ هنر مو په فني توګه زده کړنو تاسو به ترینه په خپل ژوندانه کې څه ګټه واخلئ؟




**فعالیت:**

د نستعلیق خط د لیکلو په وخت کې دهغې ښکلا په پام کې ونیسئ.

## ښاغلی ښوونکی دې:

زده کوونکي یو ځل بیا د قلم حرکتواو د تورو یوځای کیدو یا نښلولو ته متوجه کړي.

**کورنۍ دنده:** پورتنۍ لیکنه څو واره ولیکئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


# شپږم لوست

# د لیک ښکلا

موخه: د نستعلیق خط د قانونمندۍ اودلیک دښکلا زده کړه.

**پوښتنه:**

❖ د تورو د ځای په ځای کیدو او د لیک د ښکلا په هکله څه ویلی شئ؟



**فعالیت:**

پورتنۍ لیکنه په خود کار قلم او پنسل ولیکئ او هڅه وکړئ چې د لیک ښکلا په پام کې ونیسئ.

## ښاغلی ښوونکی دې:

د هر زده کوونکي لیک ښېل ښېل وګوري او اصلاح دې کړي او هغوی دې د لیک ښکلا ته وهڅوي او دپام وړ او ارزښتناکې ځرګندونې دې ورته وکړي دادې هم ځرګنده کړي چې د لیک ښکلا ستاسې په ژوندانه کې څه رول لري.

**کورنۍ دنده:** یوه جمله په خپله خوښه تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم لوست

## نسخ

موخه: په نی قلم دسمې لیکنې او د تورو د حرکتونو سره د زده کوونکو بلدیدل.

**پوښتنې:**

- د تورو حرکتونه پیژنئ؟
- د خط دهنر د زده کولو څخه وروسته به وطنوالوته څه خدمت وکړئ؟

کان د لعل د یاقوت د گوهر څه دئ
چې احسان ترې پید اکیږی کان هغه

**فعالیت:**

پورتنۍ لیکنه د نی په قلم ولیکئ او د تورو ځای په ځای کېدل د کرسي په خط په پام کې ونیسئ که د ستونزو سره مخامخ کیږئ نو د ښوونکي څخه مرسته وغواړئ.

**ښاغلی ښوونکی دې:**

د کرسي په خط د تورو ځای پر ځای کیدل او حرکتونه د ټولگی په توره تخته ولیکي او زده کوونکي دې پرې وپوهوي او لیکونه دې اصلاح کړي.

**کورنۍ دنده:** په ډېر غور او ځیرکتیاسره لاندې لیکنه تمرین کړئ!

کان د لعل د یاقوت د گوهر څه دئ چې احسان ترې پید اکیږی کان هغه



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم لوست

# د لیک ښکلا

موخه: د کرسي په خط باندې د کلمو د زده کړې او په خودکار قلم د نسخ خط لیکل.

**پوښتنې:**

- ❖ د خطاط کیدو له پاره څومره مودې ته اړتیا لرئ؟
- ❖ د ټولګیوالو سره مرسته د انسان په شخصیت کې څه رول لري؟

وهرچاته په خپل شکل ځرگندیږم

آینې غوندې بې رویه بې ریایم

**فعالیت:**

هڅه وکړئ چې په ډېره مینه د خطاطۍ هنر زده کړئ! یوازې په ټولګي کې په لیکنه بسنه مه کوئ هر وخت تاسې کولی شئ چې لیکونه مشق او تمرین کړئ!

## ښاغلي ښوونکی دې :

زده کوونکو ته وو ایي چې سربیره په پورتنۍ لیکنې نورې لیکنې د کتابو، مجلو او ورځپاڼو څخه ترلاسه کړئ او تمرین یې کړئ! په پورتني فعالیت کې دوی ته لاژمه لارښوونه وکړئ!

**کورنۍ دنده:** په خپله خوښه یو لیک تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


# نهم لوست

## نستعلیق

موخه: د خط د ښکلا او د تورو د حرکتونو سم درک کول.

**پوښتنې:**

- ❖ دتورو دحرکتونو سره بلدشوي یاست؟
- ❖ د ښکلي لیک د لیکلو وروسته څه احساس درته پیدا کیږي؟




**فعالیت:**

پورتنی لیکنه د کرسي په خط ولیکئ او دمشق په وخت کې د پوره زغم او حوصلې څخه کار واخلئ.

**ښاغلی ښوونکی دې :**

زده کوونکو تـه سپارښتنه وکړي چې پـه ډیر شـوق او مینـه تمـرین وکـړي او ددوی د خطاطی موادو پوښتنه دې هم وکړي.

**کورنۍ دنده:** پورتنی لیکنه تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسم لوست

# د لیک ښکلا

موخه: په خود کارقلم د خط د ښکلاوو زده کړه.

**پوښتنه:**

❖ په تاسو کې څوک د انځور ګرۍ د هنر سره علاقه لري؟

څوک چې بند د پلار نیکه په ننګ او نام دي
که څه خوار شي هم د لاره په پت د قام دي

**فعالیت:**

پورتنۍ لیکنه څوواره په خودکارقلم مشق او تمرین کړئ.

## ښاغلي ښوونکي دې:

پورتنۍ لیکنه د ټولګي په توره تخته ولیکي او په هغې کې دې دقلم په حرکتونو زده کوونکي پوه کړي په لیکلو کې دې ورسره مرسته وکړي.

**کورنۍ دنده:** پورتنۍ لیکنه تمرین کړئ!


# يوولسم لوست

## نسخ

موخه: په نی قلم د نسخ خط او دهغې د سمولیکلو دطریقې زده کړه.

**پوښتنه:**

- ❖ که اخبارونه او مجلې مولیدلي وي ، ووايي چې په کوم خط لیکل شوي دي؟




**فعالیت:**

پورتنۍ لیکنه د ظرافتو سره سره په نی قلم مشق او تمرین کړئ او هڅه وکړئ چې د خطاطۍ وسیلې سمې وساتئ.

### ګران ښوونکی دې:

دشاګردانو د خطاطۍ د وسیلو په راوړلو ځان ډاډه کړي او پورتنۍ لیکنه دې د ټولګي په توره تخته ولیکي او دوی ته دې دسمو لیکلو لارښوونه وکړي.

**کورنۍ دنده:** پورته لیکنه هره شپه ځوواره تمرین کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوولسم لوست

## دليک ښکلا

موخه: په خودکارقلم د نسخ خط زده کړه او دهغه دسمو ليکلو لارې چارې.

**پوښتنه:**

❖ د ښه خط درلودل په نورو مضمونو څه اغيزه لري؟

ما چې وکړه ستا لوی عشق تنکلکه هنګه
رب زما په برخ کړې وه داونګه



**فعاليت:**

پورتنۍ ليکنه څوواره تمرين کړئ او خپل فعاليت ته ادامه ورکړئ.

## ښاغلي ښوونکي دې:

د ليک د ښکلا په هکله زده کوونکو ته لازمه لارښوونه وکړي!

پورتنۍ ليکنه د ټولګي په توره تخته وليکي. ترڅو دوی د خط په حرکتونو وپوهيږي.



**کورنۍ دنده:** په خپله خوښه يوه جمله تمرين کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


# دیارلسم لوست

## نستعلیق

موخه: د کرسي په خط د نستعلیق خط د جملو د لیکنې زده کړه.

**پوښتنه:**

- د خطاطي هنر څومره درته په زړه پورې دی؟




### فعالیت:

پورتنۍ لیکنه د کرسي په خط د حرکتونو سره سره ولیکئ.

### ښاغلي ښوونکي دې:

زده کوونکي په ډلو وویشي د ډلو هر یوه تن ته دې دنده وسپاري چې د پورتني شعر نیم نیم بیت تمرین کړي او بیا دې خپل مشقونه یو بل ته وښیي. ددوی کارونه دې ننداري له پاره وځړوي.

**کورنۍ دنده:** په خپله خوښه یوه جمله تمرین کړئ!


# څوارلسم لوست

## د لیک ښکلا

موخه: په خودکارقلم د نستعلیق خط دمشق کولو سره اشنا کیدل.

**پوښتنه:**

- تاسې د خپل چاپېریال د خطاطۍ کورسونه لیدلي دي؟



**فعالیت:**

د پورتنۍ لیکنې د قلم حرکتونه په پام کې ونیسئ او بیا یې په ښکلي خط مشق کړئ.

**ښاغلی ښوونکی دې:**

پورتنۍ لیکنه دټولګي په توره تخته داسې ولیکي چې د زده کوونکو پام دقلم حرکتوته ورواړوي ترڅو دوی په حرکتو وپوهیږي.

**کورنۍ دنده:** څو وار تمرین وکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


# پنځه لسم لوست

## نسخ

موخه: په نی قلم د نسخ خط زده کړه.

**پوښتنه:**

- د برجسته خطونو لیکل څه مفهوم لري؟




## فعالیت:

پورتنۍ لیکنه په نی قلم د کرسي په خط ولیکئ.

## ښاغلي ښوونکي دې :

دزده کوونکو سره د خط د وسیلو په درلودلوځان ډاډه کړي او بیا دې دوی ته د لیک په لیکلو کې لازمه لارښوونه وکړي.

**کورنۍ دنده:** په نی قلم تمرین وکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


# شپاړلسم لوست

## د لیک ښکلا

موخه: په خودکارقلم د لیک د ښکلا زده کړه.

**پوښتنه:**

- ❖ د خطاطۍ د هنر کوم ډولونه مو زده کړي دي؟



**فعالیت:**

پورتنۍ سرمشق په پام کې ونیسئ او یوه بله جمله په خپله خوښه مشق اوتمرین کړئ.

**ښاغلیه ښوونکیه:**

زده کوونکي دې په خپله خوښه پورتنی سرمشق په خود کار قلم تمرین کړي تاسې د دوی لیکونه اصلاح کړئ.

**کورنۍ دنده:** پورتنی لیکنې ته په ځیر وګورئ او څوواره يې په کورکې تمرين کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اوو لسم لوست

## شکست توري

موخه: په شکست خط کې د ( ا ) او ( ب ) توري د بېلو بېلو ډولو او دهغې د اساساتو سره د زده کوونکو اشنا کول.


**پوښتنې:**

- ❖ شکست خط د نورو خطو سره څه توپیر لري؟
- ❖ په لاندې لیکنو کې څو ډوله ( ب ) لیکل شوې ده؟



**فعالیت:**

په پورتنۍ لیکنه کې کرسي خط په پام کې ونیسۍ او مشق یې کړی لاندې شکل او بیا هغه مرکب تورو ته په ځیروګورئ چې د نستعلیق خط د تورو سره څه توپیر لري و یې لیکئ. لاندې شکل ته په ځیر وګورئ



## ښاغلی ښوونکی دې:

دشکست خط د فورم او قیافې په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړې. په لیکلوکې دې ورسره مرسته وکړي. او پورتني مرکب توري دې د ټولګي په توره تخته ولیکی او دهغې په هکله دې څرګندونې وکړي.

**کورنۍ دنده:** پورتنۍ لیکنې تمرین کړئ!

# اتلسم لوست

## شکست توري

موخه: د شکست خط د مفردو تورو د لیکلو او اساساتو سره اشنا کیدل.


**پوښتنې:**

- ❖ غواړئ چې شکست خط زده کړئ؟
- ❖ د شکست خط زده کړه څه ګټه لري؟



**فعالیت:**

شکست توري د کرسي په خط د اساساتو سره د پورته شکل په شان په نی قلم ولیکې. او هغه توري چې د نستعلیق په خط کې نه ترسترګو کیږي هغه د اساساتو پرته ولیکئ دا کړنې په ټولو درسو کې په پام کې ونیسئ.



**ګران ښوونکی دې:**

د (ج) او (د) توري د ټولګي په توره تخته د اساساتو سره اومرکبونه دې د اساساتو پرته په برجسته توګه ولیکي او زده کوونکي دې دخپل لاس حرکت ته متوجه کړي.

**کورنۍ دنده:** پورته لیکنې څوواره په کورکې تمرین کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نولسم لوست

## س

موخه: د اساساتو سره سره د مفردوتورو او د اساساتو پرته د مرکبو تورو دليکلو زده کړه.


**پوښتنه:**

- د شکست خط او د نستعليق خط مرکب توري څه توپير سره لري؟



**فعاليت:**

پورته توري داساساتو سره وليکئ او مرکب توري د اساساتو پرته وليکئ دا کار په ټولو درسو کې په پام کې ونيسئ.



**ښاغلي ښوونکي دې:**

مرکب توري د اساساتو پرته د ټولګي په توره تخته په برجسته توګه وليکي او دمفردوتورو په اړوند دې زده کوونکو ته لازمه لارښوونه وکړي.

**يادونه:**

شکست توري د اساساتو سره سره او مرکبونه د اساساتو پرته بايد تدريس شي او دا کار په ټولو درسو کې په پام کې ونيسئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# شلم لوست

## ص، ط

موخه: د مفردو او مرکبو تورو د سمو لیکلو زده کړه.


**پوښتنه:**

- که تاسې د خطاطۍ هنر زده کړ د خپلو ورونو، خویندو او ټولګیوالو سره به څه مرسته وکړئ؟



**فعالیت:**

په پورته تورو کې کرسي خط په پام کې ونیسئ او لاندې مرکبونه څوواره ولیکئ.



**ښاغلي ښوونکي دې:**

مفرد او مرکب توري د ټولګي په توره تخته ولیکي او د زده کوونکو مشقونه دې د کتابچې په یوه څنډه کې اصلاح کړي!

**کورنۍ دنده:** د تورو دواړه شکلونه څوواره تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو ویشتم لوست

## ع، ق

موخه: د مفردو او مرکبو تورو پېژندنه او دهغې دسمو ليکلو زده کړه.

**پوښتنې:**

- د شکست خط دزده کولو سره څومره مينه لرئ؟
- دا خط ولې پرله پسې تمرينوئ؟



**فعاليت:**

پورتني او لاندېني توري په ډېره دقيقه توګه تمرين او هڅه وکړئ چې نزاکتونه يې په پام ونيسئ.




**ښاغلی ښوونکی دې:**

د زده کوونکو سره پرله پسې خپلې مرستې ته دوام ورکړي. دوی دې وهڅوي او لازمې لارښوونې دې ورته وکړي!

**کورنۍ دنده:** پرله پسې خپل تمرين ته ادامه ورکړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه ویشتم لوست

## ک، ل

موخه: د شکست خط د لیکلو سم درک.


**پوښتنه:**

❖ : ولې دا خط تمرینوئ په دې اړوند څرگند ونې وکړئ؟



**فعالیت:**

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او هره ډله دې پورته او لاندې لیکنې مشق کړي او بیا دې په ټولگي کې د تنداري له پاره کښیږدي ترڅو دوی خپل مشقونه وگوري چې دا کار د دوی دهڅونې سبب وگرځي.



**ښاغلیه ښوونکیه:**

په پورته لیکنه کې د ټولو مرکبو تورو د لیکلو طریقه سره یوشان ده خو یوازې د (ل) توری تغیر لري ځکه کله چې د (ل) سره د (الف) توری یوځای کیږي تغیر کوي.

**کورنۍ دنده:** مفرد او مرکب توري پرله پسې تمرین کړئ!

# درویشتم لوست

## ( ل،م،ن )

موخه: د شکست خط د لیکلو د طریقې سره د زده کوونکو اشنا کېدل.


**پوښتنې:**

- تاسې په نورو ټولګیو کې د دې ډول تورو سره اشنا وئ؟
- تاسې کوم یو کولی شئ چې شکست توري د ټولګي په توره تخته ولیکئ؟



**فعالیت:**

زده کوونکي دې پورتنۍ لیکنه د کرسي په خط مشق کړي او دلیکلو په وخت کې باید د پوره دقت څخه کار واخیستل شي او لاندې لیکنې دې هم په غور وګوري او تمرین یې کړئ.



**ښاغلی ښوونکی دې:**

پورته لیکنې د ټولګي په توره تخته ولیکي او دلاس هنري حرکت ته دزده کوونکو پام ور واړوي او ددوی کارونه دې اصلاح کړي.

**کورنۍ دنده:** په خپله خوښه یوه جمله په شکست خط تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلېرشتم لوست

## و، هـ

موخه: د شکست خط د مفردو او مرکبو تورو د لیکلو سره اشنا کېدل.


**پوښتنه:**

❖ په شکست خط کې د مفردو او مرکبو تورو د لیکلو توان لرئ؟



## فعالیت:

پورتني توري په نی قلم په منظم ډول مشق کړئ او هڅه وکړئ چې په خپلو لیکلو کې غښتلي ووسئ او لاندې لیکنې هم څوځلې تمرین کړئ.



## ښاغلی ښوونکی دې:

مفرد او مرکب توري څوځلې په شاګردانو تمرین کړي او دهغې په سمو لیکلو کې د دوی سره مرسته وکړي.

**کورنۍ دنده:** مفرد او مرکب توري په ترتیب سره تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځه ویشتم لوست

## ی، ء

موخه: د مفردو اومرکبو تورو پیژندنه او د (ی) او (ء) د سمو لیکلو دطریقې زده کړه.


**پوښتنه:**

❖ همزه په کومو ځایو کې کار ول کیږي؟



**فعالیت:**

پورتنۍ او لاندینۍ لیکنې د کرسي په خط داسې مشق کړئ چې توري په خپلو خپلو ځایو کې راشي.




**ګران ښوونکی دې:**

پورتنی توری د ټولګي په توره تخته ولیکي او د دوی مشقونه په کتابچو کې اصلاح کړئ.

**کورنۍ دنده:** د (ی) او (ء) توري تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نسخ خط د تورو جدول

| مفرد توري | لومړني توري | منځني توري | اخيري توري |
|---|---|---|---|
| ا | | | ـا |
| ب | بـ بـ بـ | ـبـ ـبـ ـبـ | ـب |
| ج | جـ جـ جـ | ـجـ ـجـ ـجـ | ـج |
| د | | | ـد |
| ر | | | ـر |
| س س | سـ سـ سـ | ـسـ ـسـ ـسـ | ـس ـس |
| ص ص | صـ صـ صـ | ـصـ ـصـ ـصـ | ـص ـص |
| ط | طـ طـ | ـطـ ـطـ | ـط |
| ع | عـ عـ عـ | ـعـ ـعـ ـعـ | ـع |
| ف | فـ فـ فـ | ـفـ ـفـ ـفـ | ـف |
| ق ق | قـ قـ قـ | ـقـ ـقـ ـقـ | ـق ـق |
| ک | کـ کـ کـ | ـکـ ـکـ ـکـ | ـک ـک |
| ل | لـ لـ لـ | ـلـ ـلـ ـلـ | ـل |
| م | مـ مـ مـ | ـمـ ـمـ ـمـ | ـم |
| ن ن | نـ نـ نـ | ـنـ ـنـ ـنـ | ـن ـن |
| و | | | ـو |
| ه | هـ هـ هـ | ـهـ ـهـ ـهـ | ـه ـه |
| ی ے | يـ يـ يـ | | ـی ـے |

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**